# د پښتو په جديده ښځينه غېر افسانوي نثر کښې د ښځو د سماجي او نفسياتي مسئلو يوه تجزياتي مطالعه

# An Analytical Study of Social and Psychological Problems in the Context of Female Non-Fiction Prose

Shukria Qadir [1]

Women have made great contribution to Pashto folk literature. Most of this literature is composed by the women that reflect the psychological, social and moral problems that have been symbolically discussed particularly in Tappas. Pakhtun's women have contributed a lot to Pashto Literature because they are born poetesses. The Lullaby's that are sung by the Pakhun women are also the creation of these women that have been conveyed to us in oral form. Feelings of inner nature give birth to literature. When a poet or a literary person is keenly obsessed by the events and circumstances of the society then he/ she reflects all these in his/ her work and the readers enjoy it. Literature as a whole depicts the social and psychological problems of human being. In Methew Ornald's words literature is the criticism of life. Non fiction prose essay, travel-age, reportage and other genres have the peculiarity and significance in this regard. Pashto female non fiction writings are the true mirrors of social and psychological subjects since very long but in 20th Century a few female Pashtoon writers contributed a lot to the subject mentioned. Sayyeda Qanita Begum, Salma Shaheen, Haseena Gul and some other female Pashtoon writers can be picked from the first who has contributed to Pashto Literature regarding the social and psychological issues in their non fiction prose. This article deals with the cited prose writing of the said prominent female prose writers. An analysis also has been made along with relevant references in this context.

ادب د انسان اندروني کيفياتو نو دے. يو اديب شاعر چې د معاشرے د حالاتو او واقعاتو نه متاثر شي نو هغه خپل جذبات او احساسات د قلم د ژبې په ذريعه د ليک په شکل کښې زماني ته وړاندې کړي. د زمان و مقام سره سره د زمانې په ساخت کښې تغيرات وړاندې راځي د کوو په وجه چې د افرادو عقائد، اقدار، خيالات، نظريات، ادب، رسم و رواج او د ټولو نه ژور اثر په نفسياتو پريوځي کومو ته چې Social Changes وائي. پښتني مرمينې هم د نړي د نورو مرمينو په شان

1 Ph. D Research Scholor Pashto Academy, University of Peshawar

حساسیت لري. دوي چې څۀ ويني ګوري او محسوي هغه د خپل فطرت مطابق په خپلو افسانوي، شاعري، ډرامو، ناول او تکل، او سفرنامه کښې بیانوي. د پښتو اولسي ادب ابتداء هم د ټپې نه شوي ده کومو چې د ښځو له خوا وئیلي شوي دي. پښتني ښځې د ادب په مېدان کښې لويه برخه لري، ځکه چې دوي په فطري توګه شاعراني دي. او د ادب لمن ته ئې د شاعری، ناول، افسانې، ډرامې په شکل کښې خپل پیرزوئنې وراندې کړي دي. چونکه په ښځینه ادب کښې په افسانوي ادب ډېر کار شوي دي او هغه وخت په وخت سائیلے شوے هم دے خو په غېر افسانوي ادب کښې چې کوم کار شوي دي هغه ډېر کم او مختصر دے. خو ولې د دې باوجود چې د کار مختصر دے خو د تعریف قابل دے. زما موضوع هم د ښځینه ادب غېر افسانوي ادب سره تعلق لري چې پکښې ډاکټر سلمٰی شاهین، قانته بېګم، حسینه ګل او ناهیدانجم خټک خپل کامیاب کوشش کړي دي. چې پکښې خپل تجربات، احساسات او جذبات بیان کړي دي. هغه ټول کشالې کومې چې په یوه پښتانه معاشره کښې ښځو ته پېښې وي هغه ټول حالات ئې ډېر په زړۀ نژدي انداز کښې بیان کړي دي.

د نورو ژبو په څېرد جدیدپښتو ادب کښې هم د ښځینه غېرافسانوي ادب په پرمختیا کښې د ښځینه ادب څومره لاس دي. دا دغې موضوع یو اهم خاص مقصد دا هم دي چې په جدید ښځینه غېر افسانوي ادب کښې د ښځو نفسیاتي او سماجي مسائل کوم کوم دي او دي څومره اثر غورځولے دے.

د پښتو په جدید ښځینه فېکشن کښې مونږ د ښځو د سماجي او نفسیاتي مسئلو د جائزې په وخت ډرامه، ناول او افسانه په خصوصي توګه په نظر کښې ساتلے وۀ او په دغو اصنافو کښې مو د ښځینه لیکوالو د لیکونو جائزه اخستے شي. دغه درې واړه اهم اصناف د افسانوي ادب اصناف هم وئیلے شو. په نثر کښې د دغو ذکر شوو تخلیقي اصنافو نه علاوه ځنې نور اصناف هم شته چې د فېکشن په زمره کښې خو نۀ راځي ولې د نثر د تخلیق ادب برخه ضرور ګڼلے شي. په نثر کښې یو خوا خو د تحقیقي او تنقید علمي مېدان دے چې هغه په تخلیقي اصنافو کښې نۀ شي شمېرلے خو ولې د تحقیقي نثري اصناف ضرور دي. ځکه دغو اصنافو ته مونږ د غېرفېکشن یا غېر افسانوي ادب وئیلے دې چې پکښې سفرنامه، رپورتاژ، تکل، ادب لطیف یعني هنري او تخلیقي نثر، طنزو مزاح، ادبي کالم نګاري او داسې نور شامل دي. طنزومزاح داسې یو څیز دے چې په نثر، نظم او هر صنف کښې کېدے

شي ځکه طنزومزاح ځانله بئيل کوم صنف نۀ دے. دغه شان کالم نګاري عموماً د صَحافت سره تعلق لري خو ځني ليکوال په ادبي موضوعاتو کالمونه ليکي نو ځکه بيا دغه کالم نګاري هم د ادب برخه ګڼلے شي. ادب لطيف هم ځانله کوم بېل صنف نۀ دے خو عموماً د تکل په صنف کښې يا په ډېره خوږه شاعرانه ژبه کښې په عام نثر يا د مضمون په شکل کښې شوي ليک ته د ادب لطيف يا هنري نثر نوم ورکولے شي. په دغه پس منظر کښې کۀ په ذکر شوو اصنافو غور وشي نو په حقيقي معنو کښې سفرنامه، رپورتاژ او تکل داسې اصناف پاتې کېږي او هم دغو صنفونو ته مونږ د غېرفېکشن يا غېر افسانوي ادب نوم ورکوۀ.

د پښتو ښځينه ادب زياتې ليکوالې ناوادۀ دي. د خپلې تنهائۍ په وجه ئې ليک ته زياته توجه ورکړې ده. او د ژوند په تلخ حقيقتونو ئې رڼا اچولې ده. او په ډېرو مسئلو ئې بحث کړے دے. په دغه ليکوال کښې سيده بشرئ بېګم (س.ب.ب)، الفت بېګم درد، سلمئ شاهين عصمت بي بي او قانته بي بي نامې د قدرور دي.

مونږ چې په دغو اصنافو يعني غېرفېکشن ادب کښې د پښتو د جديد ښځينه ليکونکو د ليکونو جائزه اخلو نو يؤ خوا خو په مجموعي لحاظ په دې صنفونو کښې د ښځينه ليکوالو ليکونه ډېر کم دي او بلخوا په دغه ليکونو کښې چې بيا د ښځينه سماجي مسئلو او نفسياتي رجحاناتو جاج اخلو نو دا ليکونه بيا يخي د نِشت برابر په نظر رائحي دې لړ کښې د ښځينه ليکونکو کالم نګاري خو هسې هم د نِشت برابر ده او بيا په کالم کښې خو د ښځينه سماجي او نفسياتي مسئلو ترجماني لازياته غټه مسئله ده ځکه دَ کالم نګارئ ميدان خو خالي دے. دغه حال د طنزومزاح هم دے. د رپورتاژ په صنف کښې هم ښځينه ليکوالو څۀ نه څۀ خدمات ضرور شته او په دغه ميدانونو کښې د هغوې ليکونو کښې د ښځو د سماجي او نفسياتي مسئلو ترجماني هم تر څۀ حده شوې ده چې په دې بحث کښې ئې مونږ جائزه اخلو.

## سفرنامه

دې لړ کښې مونږ د ټولو نه مخکښې د سفرنامې په صنف کښې د ښځينه ليکوالو په ليک او ادب کښې د ښځينه جزباتو، احساساتو او نفسياتو په طور توجه کوۀ او د يوې ډېرې اهمې سفرنامې جاج اخلو کومه چې سيده قانته بېګم د "زما سفرنامه" په نوم ليکلې ده او د پاکستان د جورېدو نه صرف يو

کال پس په ۱۹٤۸ء کښې چاپ شوې ده. دا سفرنامه د قانته بېګم په ګڼو سفرونو مشتمله ده چې پکښې د پاکستان د ځنو ښهرونو او سیمو لکه لاهور، کراچی، کشمیر داسې نور نه علاوه د موجوده هندوستان (انډیا) د ګڼو سیمو سفر هم شامل دے. دې نه علاوه د انګستان (انګېنډ، مصر، سعودي عرب او افغانستان) سفرونه هم شامل دي. دغسې دا یوه سفرنامه نۀ ده د سفرنامو مجموعه ده چې قانته بېګم د "زما سفرنامه" په نوم چاپ کړې ده. د دې سفرنامې مجموعي حېثیت څۀ دے. ادبي مقام ئې څۀ دے او د تاریخ، جغرافیې، اقتصادیاتو، ثقافت او نورو علومو او فنونو په حقله څۀ معلومات لري؟ دا یو جدا بحث دے چې زمونږ د موضوع نه خارج دے. البته د دې سفرنامې په مجموعي حیثیت د اروابښار عبدالخالق خلیق دا رائې پېش کول ضرور دي چې وائي!

> "ما د محترمې خاتون سیده قانته بېګم سفرنامه او لوسته. ماته چل نه راځي چې دے عذتمندې او فاضلې پښتنې مېرمنې ته په کومو لفظونو کښې داد ورکړم او څنګه ئې ستاینه اوکړم. د پښتونخوا یوه تورسره پېغله او ستانه داره بي بي د کور د چار دیوارۍ اوځي د دُنیا ګټ ګټ په ځان رسوي، د دنیا تقریباً اکثر د لید قابل ځایونه ګوري. صرف سېرسیاحت ئې نه کوي. بلکې د هر مقام تاریخ پس منظر بیانوي د هغې نه پخپله هم عبرت اخلي او لستونکو ته هم د سبق ورکولو کوشش کوي. په هره مسئله ښۀ عالمانه تبصره کوي. نه صرف د لوستو په علم کښې اضافې کوي. بلکې د هرې مسئلې د خراب اړخ د غورلو کوشش کوي. غلط قدم که پخوانو اغستے دے نو هم ئې ملامته کوي. اوکه اوسنی کول په غلط لار روان او دیني نور د هغو صحیح لارته د راړه ولو کوشش کوي."(۱)

د ورکوټوالي نه ئې د دُنیا د سېر کولو ارزو پۀ زړه کښې وه. الله پاک هم د دي دغه خواهش پوره کړو. والد ئې په سرکاري عهده غټ افسر ؤ. ځان سره په ملکونو ګرځوله. ځکه چې قانته بي بي د خپل رور سره اوسېده نو اکثر هغه په هم ځان سره د نورو ملکونو په دوره ګرځوله.

د دې سفرنامې په حقله اروابښار سیدرسول رسا صاحب هم خپله تبصره پېش کړې ده. د هغۀ تبصره هم عموماً د سفرنامې په مجموعي اهمیت، ادبي او علمي مقام او د لیکوالې په مطالعه او مشاهده رڼا اچوي. د رسا صاحب دغه تبصره نه هم استفاده کوۀ. هغه دي لړ کښې لیکي!

”ما د سیده قانته بېگم سفرنامه په ډېر غور او اولوسته، ځما په خیال په پښتو ژبه دومره دلچسپه، دومره معلوماتي او دومره ښکلې سفرنامه تر اوسه نه ده لیکلے شوې. په ټول کتاب په مجموعي حیثیت مذهبي رنګ غالب دے. او د هغے شاید وجه دا وي چې سیده قانته بېګم د یو اوچت مذهبي خاندان سره تعلق لري. دا سفرنامه په حقیقت د ډېرو د قیقو او مفیدو معلوماتو یو دائرةالمعارف هم دے، او په دې کتاب کښې په ډېر تفصیل، په ښائسته ادبي رنګ کښې دمختلفو ملکونو حالات یعني خوبۍ دواړه بیان شوي دي. د دې نه معلومېږي چې د سیده قانته بېګم مشاهده ډېره تېزه او قوي ده. او د بالغه ذهانت مالکه ده.“(۲)

البته سیده قانته بېګم چې د خپلې سفرنامې په تعارفي خبرو کښې څۀ وئیلي دي، هغې د سفرنامې په مجموعي حیثیت او اهمیت هم خبره کړې ده او د ښځو او جینکو دپاره هم د تعلیمي او شعوري بېدارۍ یو مجموعي پیغام ورکړے دے چې د یوې تعلیم یافته پښتنې تور سرې لخوا نورو ښځو او جینکو ته د هغې د اصلاح جزبې او سماجي شعور عکاسي کوي.

قانته بېګم خپل دغه پیغام په دې الفاظو کښې وړاندې کوي!

”اوس دا عرض کوم چې مونږ له پکار دي، چې پښتو کښې د تعلیمي نصاب دپاره یا د تعلیم د نصاب دپاره هر فن کښې کتابونه پیدا کړو، چې طالب علمانو ته هېڅ قسم تکلیف نه وي. او د هغوي د پښتو سره مینه پېدائشي، خپلے ژبې سره د هر چا قدرتي مینهوي. خو مینه زیاتېږي هَله چې د طالب علم طبقې منشاء پوره کېږي. طبع د هر چا بېله وي، د چا تاریخي قصې خوښې وي د چا د سفر او ساحۍ خبرې، د شعو و شاعرۍ سره دلچسپي وي، او د چا د مذهبي مسئلو سره مینه وي، نو بېلو بېلو طبقو له بېل بېل قسم کتابونه پکار وي، ځما پخپله تاریخ او سماجي خبرو او کتاپونو سره مینه ده، او سیاحت مې ډېر زیات خوښ دے. خو سیات هم داسې نه چې سرے لاړشي او ګرځي بل چاته تر څۀ فائده اونه رسي.“(۳)

نامور نقاد او دانشور قلندر مومند چې په دې سفرنامه کومه تبصره کړې ده هغې کښې د یوې ښځې لیکوالې په حېث د قانته بېګم په اسلوب او مزاج هم خبره کړې ده او بیا په خصوصي توګه د سفرنامې په مېدان کښې د ښځینه لیکوالو په مزاجو فطرت، طبعت او انداز بیان ئې هم تبصره کړې ده. قلندرمومند صاحب خپله دغه رائې د عالمي ادب د ښځینه لیکوالو په تناظر کښې وړاندې کړې ده خو بنیاد ئې د سیده قانة بېګم "زما سفرنامه" ګرځولې ده. هغه دې لړ کښې داسې لیکي!

> "په عالمي ادب کښې د زنانو لیک په حقله زما مشاهده دا ده چې عام طور سره د نارینؤ لیکونکو په مقابله کښې د دې جزیات نګارۍ نه زیاتې مائلې دي جین استن، ایمیلي برانټے، درجینیاولف او عن تر دې چې په حجاب امتیازعلي، د قراةالعین حېدر کښې هم دا صفت په ډېر شدت سره محسوسوي. سیده قانة بېګم هم د خپل جنس د دې اهم خصوصیات نه کافي هده پورې خپله برخه اخستې ده. هغه چې یوه واقعه بیانوي نو د پوره تفصیل هم نه هېره وي. دا ئې ځما په خیال د واقعاتو په بیان کښې د څۀ شعور کوشش نه بغېر د "مېک سېلف" هغه عنصر پېدا شي چې د داستان ګوئي د تاثر د پاره ډېر ضروري دے."(٤)

د دغو تبصرو او رائیو نه چې راتېر شو او خپله د دې سفرنامې د مختلفو برخه مطالعه کوؤ نو په ځاے د داسې واقعاتو ترجمانۍ سره مخ کېږو چې لیکوالې پکښې د ښځینه نفسیاتو او سماجیاتو ترجماني کړې ده.

په دې سفرنامه کښې د لندن د سېل په وخت لیکواله برټش میوزیم کښې د موجوده نوادراتو تفصیل چې بیانوي نو پکښې د ځنو مړو شخصیاتو د خاکو او جوړو شوؤ بُتانو په حقله هم معلومات راکوي او دغه شخصیات چې په کومو جینګونو کښې مړه شوې دي د هغوو جنګونو پس منظر کښې د ښځو په کردار هم رڼا اچوي. وړومبے میوزیم کښې پرتو د شخصیاتو د خاکو او جنګونو د پس منظر معلومات راکوي. او بیا د جنګونو پس منظر کښې د ښځو په کردار داسې رڼا اچوي!

> "ښځې په لوئې تعداد کښې په فوځ کښې پولیس کښې بهرتي شوې. او د ملک په حفاظت کښې په ښۀ شان قربانۍ ورکړې، په دے پورې مې یوه ښځه رایاده

شوه، چې ليده به مې، د هغې يو ځوے ؤ، چونکې جبري بهرتي وه، او د ملک په حفاظت کښې چا څۀ وئيلے نشو، هغه د يوويشتو کالو په عمر د برما جنګ کښې مړشه، کوژدن ئې کړې وه، او بيا هغه جينۍ بل چاته وادۀ شوه، نو دا مور به ئې تله او د هغې جينۍ د ورړو خدمت به ئې کولو، د ځوي ورړوکے غوندې تصوير د سرو په زنځير کښې په غاړه کښې تعويز کړے دے. چا سره به چې اشنا شوه، نو يۀ څو خبرو نه پس به ئې زر د ځوي تصوير اړښئلو او د هغې جينۍ ځوے به ئې ياده وۀ، چې دے ځما د ځوې په شکل دے، خداے خبر چې هغه هلک کله مړ دے او دا کله شوے ؤ. خو د مور مينه د غم نه ئې په دماغ اثر معلوميده ګنې نو پخپله به ئې دا قصه کوله، چې جنيۍ بل خاوند کړے دے او د واړۀ د هغه دي، خو بيا هم ورته په هر شي کښې د خپل ځوي تصوير ښکاريده، خداے دې هر مور د غم نه اوساتي." (۵)

په هم دغه لندن کښې د دغه سيمې دتهذيب او تمدن خاکه چې پيش کوي نو د سرو سره سره د ښځو د کردار د کېدونکي سلوک او روېې وضاحت هم کوي او بيا د دغه سيمې په تهذيب، تمدن، تجارت، خانداني مسئلو، سماجي روئيو کښې د ښځو د مقام او کردار څرګندونه هم کوي. دې نه علاوه د يورپ او لندن د مذهبي رواياتو په پس منظر کښې د ښځې کردار او بدليدونکې روېې هم په ګوته کوي.

جنګې پس منظر، تهذيبي رواياتو د ذکر سره سره د اسلامي روايت او ښځې د مقام او کردار په حقله ځنې مثالونه او قيصې يا رواياتو ته هم بيانوي او ورسره د يورپ په سماج کښې د ښځې د مقام او کردار د ګڼو اړخونو وضاحت کوي. قانة بيګم په دغه سفرنامه کښې وړاندې ليکي او د ښځو د سماجي بدحالي احوال داسې بيانوي!

"يوه ښځه وه، فوج کښې کرنيلۍ عهدې ته رسيدلي ده، ډېره هوښياره، شريفه او بهادره ده، وئيل ئې دا اتلسو کالو وادۀ شوم، د نولسو کالو عمر کښې مور شوم. او دوه کاله پس مې خاوند مړ شو، د يو ويشتو کالو چې پورا کېدم نو هم وادۀ وم او هم مور وم او هم کنډه وم، بيا مې د ځوي پرورش کولو، چې هغه لږ

لوئې شو نو فوج کښې شامله شوم، دغه وخت هم وردي کښې وه، او ډېر ښۀ ښکاريده. دغسې مسز شاه چې لږ غوندي ذکر ئې مخکښې شوے دے، ډېره نېکه وفاداره فرض شناسه او نورو ښوالي مېرمن ده، خاوند د مرګ نه پس د ځوي لور پرورش د هغوي دپاره محنت مشقت او د خاوند حيا عزت ساتل د هغه د خپلوانو بلکې د ملکيانو يعني د هر پښتون عزت مدار به ئې خپل اولنے فرض ګڼو. ښځې پت حيا ننګ او ناموس دپاره ټول ژوند قربان کړي. نو خبره دا ده چې په مونږ هغه ټولې لارې چارې هم بندې دي، ولې هلته هر قسم اذادي ده، نو د داسې پت که هر څومره تعريف اوشي نو کم دے."(٦)

د ښځو د ساجي مسئلو او اولسي کردار په حقله قانة بېګم په خپله سفرنامه کښې ځائے په ځائے داسې خبرې کړي دي چې په اسلام، عسائيت، يورپ، ايشياء، عربي تهذيب او پښتون سماج کښې د ښځې د نفسياتي او سماجي کردار عکاسي ترې کېږي وئيلے نشو د هغې دا سفر نامه د څنو نورو اهمو معلوماتو سره سره د ښځې ذات د ګڼو اړخونو ترجماني هم په ډېر ښکلي او واضحه توګه کوي.

د سفرنامې په مېدان کښې هم دغه قسمه ترجماني څمونږ د دې دور جديد ليکوالې سيده حسينه ګل هم په خپله سفرنامه "په لاره ځم ټوله زنګېږم" کښې کړې ده هغې دغه ذکر شوې سفرنامه د امريکي په سفر اډانه لري چې په کال ۲۰۱۵ء کښې چاپ شوې ده. په دې سفر کښې حسينه ګل سره د اردو او سندهۍ يوه بله ښځينه ليکواله فهميده رياض د انساني او د ښځو د حقوقو په لړ کښې د ډېرو تنظيمونو ممبره هم ده، شامله وه. لازمې خبره ده چې دوه ښځينه ليکوالو به په ښځينه مسئلو هم خبرې کولې. د فهميده رياض يادونه حسينه ګل داسې کړې ده!

"ما به په تلوار تلوار ولوستله، دې ادارې دا ځل د پاکستان نه دوه ښځينه شاعرانې کړې وې چې تعلق ئې د بېلو بېلو ژبو او سيمو سره ؤ، زمانه علاوه د پاکستان د اردو ژبې لويه ليکونکې فهميده رياض هم دغه پروګرام ته غوښتلې کېده، زما دپاره خو د ويار خبره دا هم وه چې د سنده سيمې د ډېرې پياورې شاعرې سره سم زما نوم هم انتخاب شوے ؤ."(٧)

په سفر د روانېدونه مخکښې چې حسینه ګل په دې سفرنامه کښې کومې خبرې د خپلې تیارۍ په سلسله کښې کوي نو په هغې کښې د خپلې خاوردې سره د مینې څرګندولو سره سره د یوې مور په حېثیت خپل ښځینه جزبات هم څرګندوي چې په دې دول دي!

”نهِ! نه...... ! زۀ د خپل بچي نه دا پېژندګلو نشم تورولې. دې احساس زما د سترګو کور نجن کړ، او دغه وخت زما دننه مور د جوړېدو روان عمل دیو ترپ سره، ماته د خپل ژوند او بیدارۍ احساس را کړ، زما بچے لکه چې زما په دې احساس د ژوند د لومړۍ سا د اغیستو جوګه شوے ؤ. ماته یو عجیبه احساس وشو دیوې شېبې لپاره مې خپلې سترګې پټې کړې.........!“ (۸)

لکه چې وړاندې ذکر وشو چې په دې سفر کښې حسینه ګل سره فهمیده ریاض هم شامله وه، د سفر په دوران کښې او بیا په امریکه کښې د قیام په وخت دې دوؤ ښځینه لیکوالو د خپلو سیمو، تهذیبونو، ادب، سیاست او نورو اړخونو په حقله بحث مباحثې هم کولې چې حسینه ګل ئې په دې سفرنامه کښې ځاے په ځاے ذکر کړے دے. خود ښځینه جزباتو او نفسیاتو په حواله حسینه ګل د سندهۍ او اردو لیکوالې فهمیده ریاض ځنې عجیبه حرکتونو ته اشارې کړې دي چې د هغې د نفسیاتي کیفیاتو ترجماني کوي. حسینه ګل د فهمیده ریاض د نفسیاتي کېفیت هنداره حرکتونه او هغې سره د بحث او مباحثې یو منظر داسې ښائي!

”فهمیده ریاض اپا چې ماته په غور وکتل نو په ډېره همدردۍ به ئې راته ویل، لېوانۍ د ځان ډېر خیال ساته، راځه همدلته په کټ څمله، د هغې په کوټه کښې دوه کټونه وو، فهمیده ریاض ډېره مینه ناکه وه، خو ډېره لیونۍ او اوتره اوتره غوندې وه، کاوا که به ګرځېده، او اړتاوکه په اخوا دېخوا کېږي... د ځان مې سوال وکړ، بیا ئې سګرېټ ته لاس کړ، د سګرېټ سر ته ئې او ورته کړ... خبره ئې جارې هم ساتله او ـ ـ ـ ښۀ په ارام په صوفه کښېناسته ،اوس هغې ته رایاد شول چې په هوټل کښې د ننه سیګرېټ څښل منع دي او دا یو قانوني جرم دے... سیګرېټ ئې بېرته په ډبې کښې کېښود،“ (۹)

د دې سفرنامې په یوه برخه کښې حسینه ګل د فهمیده ریاض ځنې عادتونه او کېفیتونه هم بیانوي خو ورسره د امریکې د هوټل ماحول کښې د جینکو د ښائست او د هغه ځائے د جینکو د ازادۍ او ماحول تذکره هم کوي.

غرض دا چې د حسینه ګل په دې سفرنامه "په لاره ځم ټوله زنګېږم" کښې ځائے په ځائے د داسې منظرونو او کېفیتونو عکاسي شوې ده، د داسې تهذیبي، سیاسي او ادبي پس منظر ترجماني شوي ده او د داسې کردارنو نقاب کشائي شوې ده چې پس منظر کښې ئې د ښځینه جزباتو، احساساتو او نفسیاتو څرګندونه کېږي او ورسره د ځنو سماجي او تهذیبي رویو عکاسي هم کېږي.

د سفرنامې په صنف کښې دغه ذکر شوې دوه سفرنامې زمونږ مخې ته دي چې ښځینه لیکوالو لیکلې دي او پکښې ځائے په ځائے د ښځو د سماجي او نفسیاتي مسئلو او کیفیاتو ترجماني هم شوي ده.

## تکل نګاري

د تکل نګارۍ په مېدان کښې د پښتو جدیدو ښځینه لیکوالو ډېر کم کار کړے دے. او بیا په دغو تکلو کښې د ښځینه نفسیاتي او سماجي لټون کوو خبره نوره هم ګرانه شي، خو بیا هم دې لړ کښې د سلمٰی شاهین، حسینه ګل، ناهید انجم خټک وغېره وغېره نومونه زمونږ مخې ته راځي چې تکلونه ئې لیکلي هم دي او په خپلو تکلونو کښې ئې د ښځینه مسئلو ترجماني هم کړې ده.

دغه لړ کښې مونږ ورومبے د سلمٰی شاهین د تکلونو په رڼا کښې هغې په نفسیاتي رجحان او سماجي شعور خبرې کوو. سلمٰی شاهین خپلې د افسانو مجموعې کښې د افسانو سره سره ځنې نکلونه هم شامل کړي دي. په دغو کښې ئې ځنو سره پخپله د "تلکل" تورے لیکلے خو د دغو لیکونو جوړښت او فني غوښتنې د تکل دي. د مثال په توګه هغې په ټولنه کښې د ابادۍ د کمولو (Family Planning) په موضوع یو لیک کړے دے چې د تکل تقاضې پوره کوي او په دغه لیک کښې هغې په ټولنه کښې د فیملي پلانئګ په موضوع داسې خبرې کړي چې ښځو ته ئې هم یو مضبوط او واضح پېغام ورکړے دے. دغې د ښځو د نفسیاتي او سماجي ترون درس هم ورکړے دے.

په دغه تکل کښې سلمیٰ شاهین تعلیم یافته سماج کښې ښځو او ورسره سړو ته هم مخاطبه ده او د تکل په ابتدائې برخه کښې داسې وائي!

”پۀ پنځم شپږم د سمبر ۱۹۹۳ء کښې د ابادۍ کمولو پحقله پۀ مقامي هوټل کښې یو ورکشاپ کېدونکے ؤ. زۀ ئې هم پکښې درسالې د ایډیټر پۀ حېثیت رابللې ؤم. او دې ورکشاپ ته ئې "میډیا ورکشاپ" وئیلو. پۀ دې ورکشاپ کښې معلومول دا وو چې په کومو وجه پۀ ابادۍ کښې زیاتې کېږي. او هغه کومې طریقې دې. او پۀ راتلونکو څو کالو کښې به خداے خبر چې څۀ اوشي. دوي د مېنې د هرې جذبې او د احساس د هر بنده خلاص او عادې غوندې ښکارېدل مونږ خو د مسلم سټېټ او اسلامي نظرئې خاوند یو او کم مذهب چې دا وائي چې!

“تاسو خپل بچي د رزق د کمې پۀ وجه مۀ وژنۍ زۀ روزي رسان یم.“

او بل ځاے دا هم فرمائي چې!

” کاونډي دې نهر وي نو خداے به نۀ بخښي”

چرته چې زمونږ تعلیم دا دے چې دولت جمع کونکے به دوزخ ته ځي.“(۱۰)

دغه شان سلمیٰ شاهین یو بل تکل پشکالي چینجي دے چې پکښې ئې په علامتي توګه د ادب په دنیا کښې د هغو نارینه لیکوالو غندنه کړې ده څوک چې په ادب کښې د ښځینه لیکوالې مقام نۀ شي برداشت کولے او خپل ځان دپاره دا شهرت او مقام غلطې لارې لټوي. داسې سړو ته په دې تکل کښې پشکالي چینجي وئیلے شوي دي. په دې تکل کښې د سلمیٰ شاهین داخلي او نفسیاتي کېفیت دومره شدت سره په غورځنګ دے چې د یوې ښځینه لیکوالې کېدلو باوجود ئې ژبه او انداز کښې غصه او جزباتي هیجان په نظر رائحي. د تکل وړمبۍ برخه ولولۍ!

”ما وې دا خلق څۀ کۍ. سم پشکالي دي یو شان سرونه یو شان مخونه یو شان نومونه. یو شان چلونه او شان فطرتونه. خوشامندې، دروغ منافقت او نفلونه. خو زۀ یوائې پشکالي چینجي نۀ یادوم چې د پشکال د وړومبۍ شپې سره پۀ لارو

کوڅو کورونو دیوالونو او نالو کښې سرې غوښې پرتې وې. داسې لکه چې illegal immature بچې زېږولې او غور زولې ئې. لارې کوڅې لکه چې د دوي نه ډکې وي. ما خبره کوله چې زۀ یوائې چینجي او پشکالې چینجي نۀ یادوم چې پۀ لیدو ئې د سرې کرکه پیدا شي. پۀ پشکال کښې د کلو پۀ څنګا ډنډونو کښې د چیندخانو اوازونه.“(۱۱)

د سلمیٰ شاهین دغه نفسیاتي کیفیت دومره شدت اختیار کړے دے چې په خپل یو بل تکل “سپي” کښې ئې د جذباتو طوفان نور هم زیات دے. د سړو په سماج کښې د یوې ښځې د داخلي کیفیت شدت چې په الفاظو کښې څرګندېږي نو سلمیٰ شاهین غوندې حساسې لیکوالې په قلم بیا د هغې احساسات په دې توګه خپل اظهار کوي!

”سحر وختې یو سړے په لاره تلو د هغۀ د غوښې د بیګ نه یو غور زېدلے ؤ. سپے پۀ دغه کوڅه کښې یوائې ؤ. د هډوکي پۀ موندلو ډېر خوشحاله شو څکه چې ورسره نزدې نور سپے نۀ وۀ. اوږے نۀ وۀ خو حرص ئې سیوا ؤ. فوراً ئې پۀ خوړلو لګیا شو. چې غوښه خلاصه شوه نو بیا ئې د هډوکي پۀ چُوپلو شروع وکړه. د سحر نه تر غرمې هم دغسې لګیا وۀ. کله به ئې یو طرف چوپلو کله بل. کله کله به ورته پۀ ګوډو شو کله په څملاستو. بنده به څۀ اووائي سپے او هډوکے. بې وقوفه دومره وۀ چې د دومره وخت نه پۀ چُوپلو، خوړلو پۀ هډوکي کښې پاتې څۀ وۀ. خو پرېږده ئې کله. خو زما پۀ خیال هغه غوښتل چې د دلارو کوڅو سپي دې هم خبر شي چې راته وُېسخېږي. پۀ ډېرو چُوپلو پۀ هډوکي کښې پۀ خپله غوښه پیدا شوې وي. یو ساعت له ئې شخوند پۀ قلار کړو.“(۱۲)

د سلمیٰ شاهین تکل “کتابونه” هم مونږ ته د یوې ښځې دا داخلي جهان نندارہ رامخې ته کوي. او بیا په ښځو کښې هم تعلیم یافته او لیکواله ښځه خونوره هم حساسه وي او د سماج په ټولو روئیو ئې نظر وي. په دغه پس منظر کښې سلمیٰ شاهین د خپل ذاتي ژوند مشاهده هم کوي. د هغې ژوند کښې د محرومۍ احساس هم وي او د ترقۍ او خوشحالۍ هم. سلمیٰ شاهین دې لړ کښې خپل ژوند ته یو پرانستے کتاب وائي او په خپل تکل “کتابونه” کښې د دغو کیفیاتو او جزباتو ترجماني په علامتي شکل

کوي. ددغه تکل وروستۍ ټوټه د دغه کېفیت عکاسي په اسانه کوي. ځکه ېې وروستۍ برخه د نمونې په توګه وړاندې کولې شي!

”کله کله رائټرز (لیکوال) پۀ ځان کښې د نوې والې راوستو کوشش کوي. بدل رابدل کړي. ماحول بدل کړي، ځاے بدل کړي. ولې کردارونه او موضوع هم هغه وي. او زۀ چې د هر نوې موضوع لټولو دپاره کتاب ته لاس کړم نو اکثر را نۀ نیمګړې پاتې شي. ځکه چې کتاب تر څۀ وخته نوے او دلچسپ ضرور وي نو بیا هم هغسې بور. نن ما ټول کتابونه را جمع کړل. هور مې ورته ورته کړم. پرېږدۍ چې اوسوزي ځکه زما هر قدم هره تجربه هر حرکت ما د دې کتابونو نه زده کړے دے. راځه چې دا د کتابونو لاره پرېږدم. حقیقت ته راشم. نن ما ته داسې محسوسېږي لکه چې زۀ هم یو کتاب یم. کاش چې ستې وې کۀ نیمګړے هم وے.“ (۱۳)

د تکل په صنف کښې د سلمیٰ شاهین نه علاوه سیده حسینه ګل او مېرمن ناهیدانجم خټک هم خپل قلم چلولے دے. حسینه ګل یو څو لکونه لیکلې دي چې د پښتو په څنو مجلو چاپ شوي دي. خصوصاً په "جرس" مجله کراچۍ کښې د هغې څو تکلونه چاپ دي. څو د هغې په تکلونو کښې د ښځینه موضوعاتو په ځاے مجموعي سماجي مسئلو ته توجه شوې ده البته د مېرمن ناهیدانجم خټک په تکل "امتحان" کښې د یوې پېغلې د جذباتو او کیفیاتو ترجماني په داسې انداز کښې شوې ده چې د ایم اے د سطحې یوه پېغله په داسې عمر کښې څۀ څۀ خواهشات او احساسات لري او په دغه عمر کښې هغه د امتحان کېفیت څنګه محسوسوي. دې دپاره د هغې تکل امتحان نه یوه برخه دنمونې دپاره وړاندې کولے شي.

”او د امتحان د لاسه زۀ خپل ترۀ د وادۀ جنج سره لاړه نۀ شوم. اُونو کښې ځانګو شني شني پاڼې سپړدلې، ګلونو به په ټوټو کښې د مستۍ او ځوانۍ جوپټې وهلې. اَو ماته کتاب مخې ته نیولے ؤ او"مغلیه دور کے زوال کے اسباب" به مې دا اواز واورېدلو! نو زما څو به د زړۀ نه یو خداے خبرؤ! چې "اُف موسم څومره ښکلے دے راځئ چې کنډ ته لاړ شو“

زندہ باد ضبط غم ہمیشہ امتحان میں
دل کا خون ہو گیا لب مگر ہلے نہیں

او د زړۀ دغه وینه چې د زړۀ دننه سوزې نو نتیجه ئې دا شوه چې زما سور سپین رنګ غنم رنګے شو یعني "سکښے". ما به اکثره دا سوچونه کول چې د میټرک کولو نه پس به زما مزې وي. په کالج کښې به ښې مستۍ کوم ځکه چې نۀ به د پریډ اټېنډ کولو پابندي وي او نۀ د "امتحان" غم. خو زما بدنصیبي دلته هم په ما پورې کلکه انخښتې ده. کالج نه د تلو سَره درې میاشتې پس د دسمبر د "ټسټونو" د نورو ډېرو ذهني پرېشانیانو سره سره د لیکچررې دا وینا چې که په دې ټېسټونو کښې ځوک ناکامه شول نو داخلې به ئې بورډ ته نۀ شي لېږلے. بیا څۀ وو؟ زۀ وُم او زما کتابونه وو ځکه چې امتحان.....؟ په یوه کمره کښې به زما کور والو په ټې وي د خپلې خوښې پروګرامونه کتل او په بله کوټه کښې به زما ذهن د فلاسفرو په خشکو مباحثو کښې ګېرؤ."(۱٤)

مونږ په دې بحث کښې وکتل چې ښځینه لیکوالې کۀ د تکل صنف هم لیکي نو پکښې د ښځینه جذباتو ترجماني ضرور کوي. تکل هسې هم د ذاتې او داخلي مشاهداتو او کیفیاتو د اظهار نوم دے. او بیا کله چې یوه ښځینه لیکواله د تکل صنف کښې قلم چلوي نو ضرور به د خپل داخلي کیفیت د اظهار په وسیله د یوې ښځې د جذباتو او نفسیاتو څرګندونه کوي.

## ادب لطیف (هنري نثر)

ادب لطیف د نثر هغه اړخ ته وائي چې د نثر په مېدان کښې په ښکلې ادبي ژبه کښې په یوه موضوع یا مسئله د خپلو مشاهداتو او کیفیاتو اظهار وشي. ادب لطیف عموماً د تکل د صنف سره فني نزدېکت لري خو تکل د یو صنف په حېثیع ډېره ترقي کړې ده او ځانګړے حېثیت ئې اختیار کړے دے. البته ادب لطیف هغه ادب ته وئیلے شي چې پکښې تخلیقي رنګ هم وي او لکه د سفر خوږه ژبه او زړۀ راښکونکې پېرایه هم لري، د ادب لطیف ځنې نمونې د افغانستان په لیکوالو کښې لیدے شي او په پښتونخوا کښې هم ځنو لیکوالو دې لور ته پاملرنه کړې ده. د نارینه لیکوالو سره سره زنانه لیکوالو هم دې مېدان کښې کار کړے دے چې په خپلو لیکونو کښې ئې د ښځینه مسئلو په لور هم پاملرنه کړې ده. ښاغلې افضل رضا صاحب په خپل کتاب "پنځه شمعې" کښې د ادب لطیف د

ځنو ښځينه ليکوالو ذکر کړے دے او د هغوي د ليکونو يو فهرست ئې هم ورکړے دے چې مونږ ئې دلته پيش کوو.

"په جديد پښتو ادب کښې د ادب لطيف په لړ کښې هم د پښتو مېرميو برخه ښۀ جوته او روښانه ده. دا د شمېر څو ليکوالې دي ولې ليکونه ئې واقعي چې د ادب لطيف ښکلي نمونې دې پښتنو کښې د مېرمنو ليکوالو له خوا د ادب لطيف اولنۍ نمونه د مېرمنو مسقورې ۱۳۰۹ء پېدائي د خدائے شمع ده چې اوسنې ليکوال دريم جلد کښې ۱۲۳۲ مخ چاپ ده، د ادب لطيف د څو ښکلونو خبرو شوو نمونو مختصر تقصيل دا دے:

| | | |
|---|---|---|
| فهميده شاهين | | |
| شپوږمۍ | غنچه | فروري ۱۹۲۱ |
| ګوهر | دوران | جنوري ۱۹۵۹ |
| دبوډۍ ټال | اولس | ستمبر ۱۹٦۰ |
| م، ب، شادابه | | |
| زه د خيبر لوريم | لار | اپريل ۱۹۵۷ |
| عاليه اسماء | ژوند | ګلستان جون ۱۹۵۷ |
| عاليه عبدالعلي د کشلونکي يادونه او داغونه | اولس | اپريل ۱۹٦٦ |
| د چا شهيد په ياد | اباسين | اکتوبر۱۹٦۷ |
| زاهد تنها | پرانستې سترګې | (۱۵) |

د اروښاد پروفېسر افضل رضا صاحب د دغه پيش کړے فهرست نه هم اندازه کېږي چې د ليکوالو د ادب لطيف په مېدان کښې د خپلو معلوماتو او مشاهداتو د اظهار په وخت د ښځينه نفسياتو په تاثر کښې د ادب لطيف تخليق کړے دے. خو دلته دا خبره کول ضروري دي چې په ادب لطيف کښې ښځينه ليکوالو په زيات شدت او خصوصيت سره نۀ خو په مجموعي توګه د ادب لطيف په

مېدان کښې زيات کار کړے دے او نۀ ئې د ښځينه نفسياتو او سماجي شعور په لور زياته پاملرنه کړې ده. البته مونږ دا ضرور وئيلے شو چې د پښتو جديد ښځينه ليکوالو دا مېدان هم خالي نۀ دے پرېښے. څۀ نه څۀ ليک ئې پکښې ضرور کړے دے. ځکه مونږ هم د ادب لطيف په حقله خپلې خبرې هم دلته راغونډوو او په مجموعي توګه د ښځينه ليکوالو غېرفېکشن ادب کښې د ښځينه نفسياتو او سماجي مسئلو ترجمانی ته د قدر په نظر ګورو.

## ماخذونه


۱: خليق، عبدالخالق، تعارفي خبرې، مشموله، زما سفرنامه (دقانته بېګم)، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۴۸ء ، ص ز، س

۲: رسا،سيدرسول،داسفرنامه زما په نظرکښې، مشموله،زماسفرنامه، ص ص

۳: قانته بېګم، زما سفرنامه، ص ۱، ۲

۴: مومند، قلندر، پېژندګلو، مشموله، زماسفرنامه، ص ز،س

۵: قانته بېګم، زما سفرنامه،

۶: ايضاً ص ۱٤٤، ۱٤٥

۷: حسينه ګل، سيده، په لا رحم تږوله ځنګېږم،د افغانستان ملي تحريک فرهنګي څانګه،۲۰۱۵ء، ص ۹، ۱۰

۸: ايضاً ص ۲۳، ۲٤

۹: ايضاً، ص ۱۱۱، ۱۱۲

۱۰: شاهين، سلمٰی، کاڼي او ازغي، ملت پرنټر لاهور، ۲۰۰۱ء، ص ٥٤، ٥٥

۱۱: ايضاً، ص ۷۰، ۷۱

۱۲: ايضاً، ص ۹۰، ۹۱

۱۳: ايضاً، ص ۱۱٦، ۱۱۷

۱۴: انجم خټک،ناهيد،امتحان،مشموله،درې مياشتنۍ مجله"جرس" کراچی،ګڼه نمبر٦،جنوري-مارچ۱۹۹۱ء،ص ۸۱، ۸۲

۱۵: رضا،افضل،پروفېسر،پنځه شمعې،پښتواکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰٦ء، ص۷٤، ۷٥